انجنير سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰۴/۲۵

# نوڅه وکړمه؟

ستـرګې بـه پټې کـړم غـوږونه بـه کاڼـه و نیسـم
درد چې پـه زړه کې دی، زړګي سره نو څه وکړه؟

لکـه مـا شـوم خـپله خـبره کړی،  د بـل نــه اوري
دی د میـا عـلی صیب لیوني سره نو څه وکـړمه؟

د زلفـو تـال کې زنګـیدل بـه درنـه ، نـه غـواړمه
پـه تنـدي پـروت لـه تـور پیکـي سـره نو څـه وکړمـه؟

د ګلـو بـاغ تـه بـه دی نـه درځـم توبـه ، توبـه ده
سـتا د وجـود خـوږ پسـرلی سـره نـو څـه وکړمـه؟

ورتـه خوشـحال خـود روژې د ماښـامي غونـدی شـوم
لـه قهـره ډک بـل پیشـمني سـره نـو څـه وکـړمه؟

سـړی پـه دوه پښـو روان وی پـه څلـورو نـه ځـي
د خپـل کالـه څلـور پښـي سـره نو څـه وکړمـه؟

پـردي، پـردي دي  کلیوالـه  کـور کـه  ګورسـیزی
خپـل پـردی شـوی، دي پـردي سـره نـو څـه وکړمـه؟

اپریل / ۲۰۲۲

تورنتو - کاناډا



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com